بسم الله الرحمن الرحيم

# د پښتو او شغناني ژبو د ګډو فونولوژيکي ځانګړنو څېړنه

څېړونکی: نوماند څېړندوی مروت درد
لارښود استاد: څېړنپوه خیرمحمد حیدري

# سریزه

## د څېړنې اهمیت

ددې څېړنې اهمیت دادی، چې د پښتو او شغناني ژبو تر منځ خپلواک او بېواک غږونه وپېژندل شي او د دواړو ژبو ځانگړي غږونه هم په خپلواکو او هم په بېواکو غږونو کې تشخیص شي او د دغه تشخیص په رڼا کې د دواړو ژبو نږدېوالی وڅېړل شي.

## د څېړنې مبرمیت

مبرمیت یې په دې کې دی، چې څرنگه پښتو او شغناني ژبې د اندو- اروپايي ژبکورنۍ د آریک ژبښاخ په آریاني څانگې پورې مربوطې ژبې دي او د دواړو ژبو پر فونولوژیکي اړیکو مستقل اثر نه و لیکل شوی، نو ددې څېړنې په بشپړېدو به دا تشه ډکه شي او ...

# د ښېړنې پوښتنې

١. آیا د پښتو او شغناني ژبو تر منځ ګډې فونولوژیکي اړیکې شته؟

٢- د پښتو او شغناني ژبو د خپلواکو غږونو تر منځ کومې ګډې فونولوژیکي اړیکې موجودې دي؟

٣- د پښتو او شغناني ژبو د بېواکو غږونو تر منځ کومې ګډې فونولوژیکي اړیکې شته؟

# د څېړنې میتود او ډول

په دې څېړنه کې له تحلیلي ـ تشریحي میتود او د پروژې په وروستیو کې له پرتلیز میتود نه ګټه اخیستل شوې ده، د څېړنې ډول یې کتابتوني دی.

# د موضوع شکلي جوړښت

سریزه
لومړی څپرکی: د موضوع شالید
دویم څپرکی: د فونولوژۍ لنډه پېژندنه
درېیم څپرکی: د پښتو او شغناني ژبو پېژندنه او د دواړو ژبو تاریخي بهیرونو ته کتنه
څلورم څپرکی: د پښتو او شغناني ژبو د خپلواکو غږونو د ګډو فونولوژیکي اړیکو څېړنه
پنځم څپرکی: د پښتو او شغناني ژبو د ګډو بېواکو غږونو د اړیکو څېړنه
پایله
وړاندیزونه
مأخذونه

# لومړی څپرکی
# د موضوع شالید


۱. د زبانهای پامیری: (ت. ن. پاخالینه، ماه گل سلېمان، (۱۳٦٦) کال (۱۷۹) مخونه.
۲. افغانستان د ځینو ژبو او لهجو قاموس: (بدخشي، ۱۳۳۹کال، ۲۲۵ مخونه (۲۷۰۰۰) لغاتو پرتله
۳. د شغني گروپ آرپوهیزه وییپانگه: (مورگن سترنې، ۱۸۷۴م، ۱۱۹ مخونه، (پښتو، اوستا، سانسکرت، دري او انگلیسي کلماتو پرتله، شغناني د پامیري ژبو منځ کې له آریاني سره نږدې ده)
۴. الفبای زبان شغنی: (حیدري، ۱۳۸۳ل، ۲۹ مخونه، علومو اکاډمي، وروڼه قومونه)
۵. دستور مقایسی زبانهای شغنانی ـ روشانی و پشتو: (۱۳۹٦ل، ۴۲٦ مخونه، علومو اکاډمي، وروڼه قومونه)
٦. د اندو-اروپايي ژبو نَسبي څېړنه: (نیازی، ۱۳۹۸ل، علومو اکاډمي ۴۴۰ مخونه، (جرمانیک، سلتیک، سلاویک، بالتیک، آریک، لاتیني، منفردې ژبې) پامیري ژبو ته یو ځانگړی عنوان راغلی، د شغناني مخینه، استوگنځای او نورو پامیري ژبو بحثونه)
۷. جنس در زبانهای شغناني ـ روشاني و پښتو: (حیدري، ۱۴۰۲ل، علومو اکاډمي، ۲۰۷ مخونه)
۸. دو طرح برای زبانهای پامیري: (A412) پاڼې، تاجیکي څانگه آزادي راډیو، د شغناني لیکدود (سریلیک ـ لاتیني)

# مقالې

۹. شوغناني روشاني ژبې او د پښتو سره د هغوی خپلوي: (۱۳۵۱ل، ٦۳۱ گڼه، ۴۴-۵۳ مخونه) (د شغناني او روشاني لومړني معلومات د مورگن سترن، ایوانوف، زلیمان، بدخشي).

۱۰. مجموع مقالات سیمینار علمی ـ تحقیقی: فرهنگ و زبانهای پامیریان: (د مقالو ټولګه، ۱۳۹۳ل، ناصر خسرو فرهنگي بنسټ چاپ، (۱۵) مقالې)

# دویم څپرکی
# فونولوژي

۱: د فون پېژندنه: (فزيکي پېښه، تخنيکي او لابراتوري وسايل، د فونيټکس برخه، تر ټولو کوچنی غږيز واحد دی، چې د انسان د صورتي غړو په وسيله ادا کيږي).

۲: د الوفون پېژندنه: په يوه کلمه کې د يوه فونيم راز راز ادايني ته الوفون وايي، (د پند، سپېدار او توپ) په کلمو کې د (پ) غږ. (هلالي: انفرادي، حتمي. حتمي بيا په (موقعيتي، محيطي) (M,N) پزيز آوازونه.

۳: د فونيم پېژندنه: (کوچنی غږيز واحد، خپله معنی نه لري، که تجزيه شي، خپله لومړنۍ معنی له لاسه ورکوي او په معانيزو کلمو کې معانيز توپير پېښوي. فونيم له معنی سره بالقوه اړيکې لري (کور) (ک/و/ر).

۴: د فونيم په اړه د ژبپوهانو نظرونه: (ډي سو سور، نيکولای تروبزکوی، رومن جابسکن، چامسکي، پنـزل، شـاکر، زيار (د نظرونو پايله: فونيم د ژبې رغاوونکی خو په عين حال کې بې معنی غږ دی، چې خپله معنی نه لري خو په کلمو (مورفيمونو) کې معنی لرونکی توپير پېښوي).

# دریيم څپرکی
# د پښتو او شغناني ژبو پېژندنه

۱: د پښتو ژبې پېژندنه.

۲: د پښتو ژبې تاریخي بهیر ته کتنه.

۳: د شغناني ژبې پېژندنه.

۴: د شغناني ژبې تاریخي بهیر ته کتنه.

# څلورم څپرکی

## د پښتو او شغناني ژبو د خپلواکو غږونو د ګډو فونولوژيکي اړيکو څېړنه

### ۱. د پښتو ژبې د خپلواکو غږونو پېژندنه

پښتو ژبه هم لکه د نورو هندو ـ اروپايي ژبو په څېر له يوه ډله خپلواکو آوازونو نه جوړه شوې ده، دې آوازونو ته خپلواک آوازونه هم وايي، دا آوازونه په خوله کې د سا هوا د جريان له کوم بندښت پرته په اوږده بڼه ادا کېږي او په غږنه بڼه توليدېږي. خپلواک غږونه هغه غږونو ته ويل کېږي، چې د ادايني پر مهال يې هوا له غږيزو غړو څخه د تېرېدو پر مهال لـه هـيڅ ډول بندښـت سره نـه مـخ کېـږي. يـا خپلواک غږونه هغه غږونو ته ويل کېـږي چـې واړه خولـه ييـز دي او د اداينـې پـر مهـال يـې غږيز مخرجونه هيڅ ډول اړيکې او تماس سره نه نيسي. له همدې کبله د هوا يا سا ويستلو جريـان لـه کـوم بندښت سره نه مخ کېږي.

# د پښتو ژبې خپلواک غږونه

| شمېره | فونيمک | فونټيک | بېلګه |
|---|---|---|---|
| ۱- | آ | ā | آسيا، آمريکا، آواز، آسمان |
| ۲- | ه (زور) | a | شپه، خوږه، ترخه، هغه، تروه، مالته |
| ۳- | ۀ | ə | خولۀ، نيکۀ، اوبۀ، لېمۀ، کاتۀ |
| ۴- | ي | i | غوړي، لرګي، سړي، لمسي |
| ۵- | ې | e | مستې، خوږې، ترخې، هغې |
| ۶- | اوږد واو | o | پيشو، زانګو، هغو، بيزو |
| ۷- | لنډ واو | u | جارو، تالو، لېږو |

# په پښتو کلمو کې د خپلواکو غږونو بدلون

| شین ډنډ | ننګرهار | پکتیا | وزیرستان |
|---|---|---|---|
| ورون | ورون | ورین | ورین |
| پورته | پورته | پیرته | پیرته |
| مور | مور | مېر | مېر |
| کوټه | کوټه | کېټه | کېټه |
| موټر | موټر | مېټر | مېټر |
| ورور | ورور | ورېر | ورېر |
| کوڼ | کوڼ | کیڼ | کیڼ |
| توت | توت | توت (تیت) | تیت |
| موږ | موږ | مېږ (موږ) | مېږ |
| سور | سور | سیر | سیر |

# د شغناني ژبې خپلواک غږونه

| شمېره | فونیمک | فونټیک | بېلګه | پښتو معنی |
|---|---|---|---|---|
| ۱- | زور (فتحه) | (a) | اسید (asīd)، (اواز) (awâz) او څن(can) | (سږکال، آواز او ټوپک ته وایي). |
| ۲- | لنډ (و) | (u) | د اُبال (ubâl)، رُخ /rux/ او بُت /but/ کلمو کې | (د زړه سوي ورړ، رڼا او بُت ته وایي). |
| ۳- | څرګنده (ي) | (i) | د انجوم (ɪnǰum)، فِشتیر (fištīr) او د تاقی (tâqi) کلمو کې | (د کور سامان، منځني ورور یا خور، کلا) ته ویل کېږي. |
| -۴ | همزه لرونکي الف (أ) | ā | أبرابر/ābrâbar/، چأښت / čāxt/ او ساذأ) /sâδā/ | (دفعتاً، کوږ او لوی ته وایي). |
| -۵ | مد لرونکی الف (آ) | â | (آلک /âlak/، باجک /bâǰak/، لِښا /lixā̊/) | (خراب، چهارمغز او خال ته وایي). |
| -٦ | اوږد واو (ؤ) | ū | (وؤقد /wūvd/، ګؤښت /gūxt/، (کؤ) یا /kū/) | (اووه، غوښه او غر ته وایي). |
| -۷ | مجهول واو (وْ) | ů | (د اوْن /ůn/، بوْن / bůn / او باتوْ /bātů / ) په کلمو کې | (هو/بلې، ږیره/ږش او ورور/برادر ته وایي). |
| ۸- | څرګنده (ي) | ī | (ذیس (δīs)، چید /čīd/، ژیوجګی /žīwǰgi/) په کلمو کې | (لس، کور او دوستی یا محبت ته وایي). |
| ۹- | اوږده (ې) | ē | اېووْن /ēwůn/، څېم /cēm/ په کلمو کې | (حیوان او سترګې ته وایي). |
| ۱۰- | د اوږدې (ې) دویم ډول | ê | د ذېد /δêd/) په کلمه کې | (جنګ ته وایي). |

# په شغناني کلمو کې د خپلواکو غږونو بدلون

| په شغناني او روشاني ژبه او لهجه کې د خپلواکو غږونو لښتليک | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| د شغناني ژبې کلمې | د شغناني کلمو فونيټيکه بڼه | روشاني لهجه | دروشاني لهجې فونيټيکه بڼه | پښتو معنی | پښتو فونيټيکه بڼه |
| ووُرج | wūrǰ | ورج | wurǰ | لېوه | lewə |
| نِباس | Nibâs | نَبوْس | nabůs | لمسی / نمسی | lmasay |
| ڤايد | vâyd | ڤأيد | Vāyd | (روې، دېو) | Rəwe dew |
| ڤارج | vâržǰ | ڤوْرج | vůrǰ | آس | ās |
| نِبيس | Nibês | نَبيس | nabēs | لمسی (ښځینه) | Lmasəy |

# د پښتو او شغناني ژبو د خپلواکو غږونو پرتلنه

| د شغناني ژبې (آ) یا /â/ او د پښتو د /ā/ یا مد لرونکي الف (آ) خپلواک غږ پرتلنه | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| په شغناني ژبه کې د کلمو په سر کې | د شغناني کلمو په منځ کې | د شغناني کلمو په پای کې | د پښتو کلمو په سر کې | د پښتو کلمو په منځ کې | د پښتو کلمو په پای کې |
| آش (âš) (آس) | خاښ (xâx̌) (د مال ښکر) | زبا (zibâ) (شاته، عقب) | آسمان (āsmān) | آواز (āwāz) | هوسا (hūsā) |
| آسته (âstā) (ورو، آهسته) | اناق (anâq) (سیده، مستقیم، نیغ) | لښا (lixâ) (زنه) | آسان (āsān)<br>آریا (āryā) | کاتۀ (kātə)<br>ساړۀ (sāṛə) | رسا (rasā) |
| آستوْن (âstůn) (زیارت)<br>آلک (âlak) (خراب، بد) | باجک (bâjak) (غوز، غوزان، چهارمغز) | فنا (fanâ) (ستړی، ستومانه، ستړیا) | آواز (āwāz)<br>آراکوزیا (ārākozia) | تراخۀ (trāxə)<br>لامدۀ(lāmdə)<br>ناز (nāz) | ادا (adā)<br>زما (zəma) |

# هغه غږ چې يوازې په شغناني ژبه کې ځانګړی دی (ادامه)...

| د شغناني ژبې د /ů/ يا (وْ) خپلواک غږ پرتلنه | | |
|---|---|---|
| د شغناني کلمو په سر کې | د شغناني کلمو په منځ کې | د شغناني کلمو په پای کې |
| اوْن (ůn) (هو، بلې، مثبت جواب) | بوْن (bůn) (رِيره، رېش) | د شغناني کلمو په پای کې نه راځي. خو که راشي، نو هغه هم د (وْ) په وسيله پای ته رسېږي. لکه دا لاندې کلمه: |
| اُوم (ům) (نالوستی، بېسواده) | پوْند (půnd) (لاره، سړک) | بأتوْ (bātů) (پلار ته وايي). |

# هغه خپلواک غږ چې یوازې په شغناني ژبه کې شته (ادامه)...

| د شغناني ژبې د اوږدې (ې) یا (ê) خپلواک غږ پرتلنه | | |
|---|---|---|
| د شغناني کلمو په سر کې | د شغناني کلمو په منځ کې | د شغناني کلمو په پای کې |
| دا غږ د شغناني کلمو په پیل کې نه راځي. | د (ذېد ـ /δêd/ په کلمه کې (ې) غږ دی، چې پښتو کې (جګړې) ته وايي. د (چېد ـ čêd) کلمه کې (ې) چې (چاقو) ته وايي. د (سېد ـ sêd) په کلمه کې (ې) چې (تخته تیرې) ته وايي. | دا غږ د شغناني کلمو په پای کې نه راځي. |
| | | |

# پنځم څپرکی
# د پښتو او شغناني ژبو د ګډو بېواکو غږونو د اړيکو څېړنه

## ۱. د پښتو ژبې بېواک غږونه

پوهندوی مجاوراحمد زيار په خپل اثر پښتو پښويه کې د ناخپلواکو غږونو په اړه داسې ليکلي: «بېواک يا کنسونينټ هغه اوازونه دي، چې له را پيدا کېدو او يا له خولې څخه د راوتو پر وخت د سا هوا له بنديز سره نه مخامخېږي. ښاغلی زيار زياتوي، چې د پښتو ژبې د کانسونينټونو شمېر (۲۹) ته رسېږي» (زيار، ۱۳۵۷ل، ۴-۳ مخونه) له لوړ تعريف نه روښانه شوه، چې ناخلپواک غږونه هغه غږونه دي، چې د وينګ يا ادا کولو پر مهال يې د غږيزو غړو تر منځ د سا (هوا) جريان بند شي او په تشديدي يا انسدادي بڼه ادا شي. په دې ډول غږونو کې د غږيزو غړو تر منځ بندښت واقع کېږي او نه پرېږدي، چې د واولونو غوندې په وازو شونډو ادا شي.

# ۲. په پښتو کلمو کې د ښواکو غږونو بدلون

| په پښتو لهجو کې د ښواکو غږونو د بدلون لښتلیک | | | |
|---|---|---|---|
| شین ډنډ | ننگرهار | پکتیا | وزیرستان |
| اوش | اوخ | ووخ | اوش، ییش |
| بخشلی | بخلی | ښښلی | بخشلی |
| پشیمانه | خپیمانه | پخېمونه | پشیمونه |
| شادي | خادي | خودي | شودي |
| شامار | خامار | خمور | شمور |
| غاش | غاخ | غوخ | غوش |
| ترشځ (تیشه) | تخځ | تخځ | تشځ |
| واشه | واخه | ووخه | ووشه |
| وریشمین | وریخمین | وریخمین | وریشمین |
| گرانشت | گرانخت | گرونخت (گرونشت) | گرونشت |

# ۳. د شغناني ژبې بېواک غږونه

- شغناني ژبه په خپل غږيز نظام کې (۲۹) بېواک غږونه لري، تر څنګ يې (۷) بېواک غږونه پکې دخيل دي، په دخيلو کې (هـ) له پښتنو او دري نه او پاتې (ح، ص، ض، ط، ظ، ع) له عربي ژبې دخيل دي، باقي بېواک غږونه د شغناني ژبې خپل دي، چې د ټولو مجموعه (۴۶) کېږي.
- د کانسونيټونو په اړه دا خبره د يادولو وړ ده، چې دا غږونه د ژبې په ساختماني نظام کې د هجا د هستې په حيث نه راځي، بلکې د هجا په دواړو غاړو کې واقع کېږي. يعنې بېواک غږونه د تلفظ د اداينې په ډول کې کومه ځانګړې ونډه نه لري، بلکې دغه ونډه په کلمه کې د خپلواکو غږونو په وسيله ادا کېږي. هجا يا سيلاب ډېر کوچنی او نه تجزيه کېدونکی وييز واحد دی، چې له معنی سره ارتباط نه لري.

# ۴. په شغناني کلمو کې د بېواکو غږونو بدلون

| په شغناني او روشاني ژبه او لهجه کې د بېواکو غږونو بدلون | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| د شغناني ژبې کلمې | د شغناني کلمو فونیټیکه بڼه | روشاني لهجه | د روشاني لهجې فونیټیکه بڼه | پښتو معنی | پښتو فونیټیکه بڼه |
| ڤۈدم | vūdum | اڤۈگم | avūgum | رامېِ وړل | Rāmewəṛəl |
| مَږ | maɣ̌ | مېو | mēw | مېږه | meẓa |
| چۈدی | čūdi | چۈگی | čūgi | وکړ (فعل مطلق) | Wəkəṛ |
| پلاچ | palâč | بلاج | balâǰ | بروَزه | barwaza |
| ښُښ | x̌ux̌ | سُښ | sux̌ | سږی | Səẓay |
| څلأق | Cilāq | څلېگ | cilēg | نېغ / مستقیم | nəǧ |
| ڤاږځ | vâɣ̌ʒ | ڤأوز | vawz | اوږدوالی | oẓədwālay |
| ژندأرڤ | žindārv | ژِندرغ | žindirɣ | خیالي حیوان (روېِ، دېو) | Xyāli haiwān |

# ۵. د پښتو او شغناني ژبو د بیواکو غږونو پرتلنه

| د پښتو او شغناني ژبو د تم (انسدادي) آوازونو پرتلنه | | | |
|---|---|---|---|
| شغناني ژبه | | پښتو ژبه | |
| غږن | ناغږن | غږن | ناغږن |
| ب (b) | پ (p) | ب (b) | پ (p) |
| د (d) | ت (t) | ت (t) | ټ (ṭ) |
| گ (g) | ک (k) | د (d) | ډ (ḍ) |
| | ق (q) | ک (k) | گ (g) |

# د بیواکو غږونو پرتلنه (ادامه)...

| | | | |
|---|---|---|---|
| د شغناني ژبې پزیز آوازونه | | | |
| فونیم | م ـ (M) | فونیم | (ن ـ N) |
| د تولید ځای | پزیز | د تولید ځای | غاښیزپزیز |
| د تولید ډول | غبرگ شونډیز | د تولید ډول | ناغږن |
| د پښتو ژبې پزیز آوازونه | | | |
| فونیم | م ـ (M) | فونیمونه | (ن ـ N) او (ڼ ـ ṇ) |
| د تولید ځای | پزیز | د تولید ځای | پزیز |
| د تولید ډول | غبرگ شونډیز | د تولید ډول | غاښیز پزیز/غبرگژبیز |

# مایع یا اوبلن آوازونه

- **ناڕخیز آوازونه:** دا آوازونه هغه وخت تولیدېږي، کله چې د ژبې اړخونه له تالو سره ونښلي او آوازونه د هغې ناوې په وسیله چې د ژبې د راتولېدو څخه منځ ته راغلې وي وځي، دغه ډول آوازونو ته نا اړخیز مایع آوازونه وایي. د «ړ» آواز په پښتو کې داسې یو آواز دی، چې د ادایني پر مهال پکې ژبه راغبرګېږي او د سا هوا جریان پکې د ژبې له ناوې څخه (چې د راتولېدو څخه منځ ته راغلی دی) راوځي. شغناني ژبه د «ړ» غږ نه لري، پښتو ته دا غږ له آریاني ژبو راغلی دی او دا ځکه چې ایتمالوژیکي ریښه یې په دغه ژبو کې شته دی. د «ړ» غږ د پښتو کلمو په سر، منځ او پای کې راځي، راځئ! په لاندې لښتلیک کې یې روښانه کړو:

| په پښتو درې ګونو کلمو کې د «ړ» غږ کارونګ | | |
|---|---|---|
| د پښتو کلمو په سر کې | د پښتو کلمو په منځ کې | د پښتو کلمو په پای |
| ړوند (ṛund) | لړل (laṛəl)، مړېدل (maṛedəl) | موړ(muṛ)، سوړ (suṛ) |

# پایله

په خپلواکو کې (پښتو ۷ او شغناني ۱۰) غږونه. په اوږدو او لنډو غږونو ویشل شوي. (a,u,i) مشترک دي، ځانګړی غږ د پښتو زورکی (ə) دی. په اوږدو خپلواکو کې د (اوږدې «ې» دویم غږ (ê) ځانګړی دی، چې د /δêd/ یا ذېډ په کلمه کې تلفظیږي او د مجهول واو غږ چې د (اوْن) یا (بوْن) او یا (باتوْ) په کلمه کې ویل کیږي.

# پایله (ادامه)...

پښتو په بېواکو غږونو کې (ټ، ډ، ړ، ڼ) ځانګړي دي، (ث، ذ، ف، ڨ) ځانګړي غږونه دي.

تم غږونو کې مشترک (ب، پ، د، ت، ک، ګ) ځانګړي پکې (ټ، ډ، ق) دي.

مښلو غږونو کې مشترک (غ، ز، ژ، ږ، خ، س، ش، ښ) ځانګړي پکې (هـ ، ذ، ث، ڨ، ف) دي.

تم مښلو کې (ج، چ، څ، ځ) په دواړو ژبو مشترک دي.

پزیز آوازونه (پښتو کې «م، ن، ڼ» غږونه دي او شغناني کې یوازې «م، ن» دي، «ڼ» د دواړو ژبو ممیزه غږ دی، چې پښتو کې شته او شغناني کې نه شته.

په اوبلنو یا مایع غږونو کې:

اړخیز: «ل» په دواړو ژبو کې شته.

نااړخیز: «ړ» یوازې په پښتو کې شته او په شغناني کې نه شته.

لړزېدونکی یا رېپېدونکی غږ: «ر» دی، چې په دواړو ژبو کې شته.

# وړاندیزونه

د پښتو او شغناني ژبو د ګډو فونولوژیکي اړیکو د څېړني پر مهال ځیني داسې څېړنیزې سوژې ذهن ته راغلې، چې که په راتلونکي کې وڅېړل شي، نو هم به یې پښتو او هم به یې شغناني ژبې ته ګټه ورسېږي. ددې لپاره چې موضوعات روښانه شي، نو د همدې څېړنې په رڼا کې لاندې وړاندیزونه کوم:

۱- دا چې شغناني ژبه د پامیري ژبو تر منځ د ډېرو وګړو ګړنۍ ژبه ده او د فونولوژۍ له مخې له پښتو سره ډېر مشترک غږونه لري، نو د دواړو ژبو د ریښه پېژندنې له لارې دې د یادو ژبو کلمې تر څېړنې لاندې ونیول شي او د ژبو د تحول او تکامل له اصولو سره سم دې د دواړو ژبو په کلمو کې ګډه ریښه وپلټل شي.

۲. څرنګه چې شغناني ژبه د پامیري ژبو په منځ کې د یوې ځانګړې «روشاني لهجې» لرونکې ژبه ده، نو روشاني لهجه دې د شغناني ژبې د فرع په توګه وڅېړل شي، ددې کار لپاره دې څېړونکي ته شغنان ولسوالۍ ته د ورتګ امکانات په پام کې ونیول شي او دا څېړنه دې هغسې سرته ورسېږي، څه ډول چې د موضوع حق وي.

# ادامه...

۳- په شغناني ژبه تراوسه ډېر لږ کار شوی، خو دا کم کار هم په پښتو ژبه نه دی شوی، په دې ژبه په پښتو کې یوازې یو څو محدودې مقالې کښل شوي، که د شغناني ژبې په اړه د روسي، ناروېژي، فرانسوي او انګلستاني ژبپوهانو علمي او څېړنیز اثار پښتو ته وژباړل شي، نو هم به یې شغناني ژبې ته ګټه ورسېږي او هم به د پښتو ژبې د پراختیا او پښتو ژبې ته د یو ځانګړي هویت په ورکولو کې کارنده او مؤثر واقع شي.

۴- په شغناني او پامیري ژبو روسي، اروپایي او انګلستاني ژبپوهانو څېړنې کړي، خو یا په روسي ژبه دي او یا په فرانسوي او انګلیسي ژبه، که د افغانستان د علومو اکاډمي فرهنګي مرکز او د پښتو څېړنو بین المللي مرکز په ګډه هڅو دغه اثار علومو اکاډمي ته راوړل شي، نو دا کار به په شغناني او پامیري ژبو د لا ښه او اغېزمنو څېړنو لپاره دریځه خلاصه کړي او د پامیري او پښتو ژبو د غنامندۍ سبب به شي.

# مأخذونه


- **الف: کتابونه**
- 1. آریانا دایرة المعارف. ((پښتو اېډېشن))، دویمه دوره، دویم ټوک، د افغانستان د علومو اکاډمي، د دایرة المعارف ریاست: نبراسکا مطبعه: کابل، (۱۳۸٦ل).
- ۲. اڅک، بایزید. (د محمود مرهون ژباړه)، پښتو فونولوژي.کاینات څېړنيز مرکز: کندهار، (۱۳۹۹ل).
- اَرانسکي، ای. م. فقه اللغه ایراني. (د کریم کشاورز ژباړه). انتشارات پیام: کتابخانه ملي ایران، (۱۳۷۹ل).
- ۳. پښتو لهجوي قاموس. (ننگرهار، لغمان، کونړ). لومړی ټوک. مهتمم، څېړندوی ذکریا ملاتړ، د افغانستان د علومو اکاډمي، د نشراتو او عامه اړیکو ریاست: کابل، (۱۳۹۵ل).
- ۲۹. مومند، محمد اسحاق. د مومندو او اپریدو د گړدودونو پرتلیزه څېړنه. مومند خپرندویه ټولنه: جلال آباد، (۱۴۰۲ل).
- ۳۰. نیازی، رفیع الله. د اندو اروپایي ژبو نسبي څېړنه، د افغانستان د علومو اکاډمي، د بشري علومو معاونیت، د ژبو او ادبیاتو مرکز، د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیټوټ، د ژبپوهنې ډیپارټمنټ کابل، (۱۳۹۸ل).
- **ب: مقالې او د مقالو ټولگې**
- ۳۳. اورمړ، خلیل الله. ((د پښتو ژبې د لهجو تاریخچه))، کابل مجله ۲ گڼه، د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز: کابل، (۱۳۹۴ل).
- ۴۲. منصور، محمد یوسف. ((د پښتو قدامت))، کابل مجله، ۱۰ گڼه، د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز: کابل، (۱۳۵۱ل).
- ۴۳. هلالي، عبدالحکیم. ((د فونیم پوهنه))، کابل مجله، ۷۰٦ گڼه، د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز: کابل، (۱۳۴۸ل).
- **ج: بهرنۍ سرچینې**
- ۴۴. ا. م. فیصل اف. زبان روشانی های پامیرسویتی، دانش: دوشنبه، (۱۹٦٦م).
- De-Saussure, Ferdinand .Literary Theory and Criticism literariness: The library of The University of CALIFORNIA LOS ANGELES. (1959)..۴۵

# پوښتنې او وړاندیزونه



# له پاملرنې مو

# نړۍ مننه!